# ستاسی معلومات خصوصي دي

## کله چې تاسو ددی خدمت استعمالونکي یاست،
## ستاسو په معلوماتو باندی څه کیږي؟

### موږ څوک یو؟

موږ ستاسو په منطقه کی د څو ټولنیز او روغتیایې پاملرنې د خدمت کوونکو نه یو خدمت کوؤنکې یو چې ټول په ګډه سره زیار باسو ترڅو ستاسی صحي اړتیاوی پوره کړؤ.

### ولی موږ ستاسی په هکله معلومات را غونډوؤ؟

موږ ستاسی نوم او د تماس نیولو معلومات ستاسی په ریکارډ کی ساتو. نور معلومات لکه ستاسی د پاملرنې او د روغتیا پلان په هر ځل چې تاسی ملاقات ته راځی ثبت وؤ.

### ولی موږ ستاسو معلومات را غونډه وؤ؟

هغه معلومات چې موږ یی را ټولوؤ موږ سره مرسته کوي چې ستاسی د اړتیاؤ په هکله نوي معلومات وساتو ترڅو موږ وکولای شو ستاسی پاملرنه په ښه او بهتره ممکنه لاره ترسره کړو. موږهمدارنګه دا معلومات ددی خدمت د ښی اداری او پلان دپاره هم استعمال کړو.

### نور څوک ستاسو معلومات ویني؟

ستاسی معلومات یواځی د هغه مسلکي اشخاصو له خوا چې په دی خدمت کی ستاسی په پاملرنه کی ګډون لري لیدل کیږي. پرته له دی موږ ستاسی په هکله معلومات یواځی یا ستاسی د موافقې سره سم او یا هم د قانون د غوښتنې په اساس ښکاره کوؤ، لکه په روغتیایي اضطراري حالت کی.

### تاسو دخپلو معلوماتو په څرنګوالي کی چې څه پری وشي یا ونه شي ، د فیصلی څه حق لری؟

تاسی دخپلو معلوماتو په هکله چې څه پری وشي د پریکړی حق لری . موږ په هغو معلوماتو متکي یو چې تاسی یی موږ ته راکوی. دا موږ سره مرسته کوي چې ستاسی دپاره دُرسته کتنه برابره کړؤ. دا ستاسی حق دی که ونه غواړی چې خپل ځینی معلومات زموږ سره شریک کړی ، او یا مو په خپل ریکارډ کی بندیز ولګوی. ولی دا کار شاید زموږ په توانایي کی چې ستاسی دپاره ښه ممکنه خدمتونه برابر کړو اغیزه وکړي. که وغواړی چې په خپله موافقه کی مو بدلون راوړی او یا هم موافقه مو بیرته واخلی زموږ سره ورغیږی .

### ستاسو معلوماتو نه به څرنګه ساتنه وشي؟

موږ ستاسو د ریکارډ د محرمیت د ساتنی لپاره ځان وقف کړی دی. قانون هم ستاسی د معلوماتو د محرمیت نه ساتنه کوي. موږ ستاسی د معلوماتو سره په کلکه سري توګه چلن کوؤ او محفوظه یی ساتو.

### آیا تاسو کولای شی خپل معلوات تر لاسه کړی؟

هو تاسو حق لری چې د خپل معلوماتود ترلاسه کولو دپاره او که لازم وي په هغوکی د بدلون راوستلو دپاره غوښتنه وکړی .

### نوری څه پوښتنې شته؟

کوم وخت چې تاسو زموږ مراجع یاستی ، که د خپلو معلوماتو په هکله چې څه پری کیږي څه نوری پوښتنی یا شکایتونه لری، او یاهم که غواړی چې خپل ریکارډ تر لاسه کړی ، ستاسی نه هیله کوؤ چې زموږ د یو مامؤر سره و ږغیږی.